ليکوال: کوچی نیټه ۲۰۱۰-۱۲-۰۹

# افغان ولس دی پردی لوبه ربنتنی قضاوت وکړی؟

د پاکستان اوسنی واکداران او هم په کابل کښی د هغوی پلویان په دی وروستی وختنو کښی یو واربیا پردی خبره باندی ډیر پوره ټیینګارکوی، کوم چی د پاکستان صدراعظم یوسف رضا ګیلانی په خپل رسمی سفرکښی کابل ته د افغان ولسمشرحامد کرزی په ګډون په یوه ګډه خبری ناسته کښی بیا په تکرارډول وویلی چی:
« افغانستان بیله پاکستان د مرستی څخه پرته په هیڅ یوډګرکی هم بریالی کیدای نشی».
مګرافغان بیچاره ولس او د نړی نور ولسونه او د هغوی په سرکښی هغه سیاستوال کوم چی د پاکستان سره دوستان دی اوپاکستان ته هر کال په بیلیونو ډالر مرسته ورکوی، ددی معما په ځواب کښی دا خبره په ډاګه کوی چی:
« سوله او امنیت په افغانستان کښی بیله د پاکستان دلاس وهنی څخه بریالی کیدای شی ».
متل دی چی وایی که شپه تیاره ده مڼی په شماردی، راځی چی ددی خبرو وهغوځینی انکارنه کونکي شواهدو ته په لنډ ډول اشاره وکړم کوم چی همدا اوس د عمل په ډګر کښی د دواړهیوادو او نړیوالی ټولنی ترمنځ په حقیقی ډول دوام لری.

١ - د پاکستان د ټروریزم سره پرخلاف مبارزه:
اوس د سیمی اونړی ولسونه او د هغو په سر کښی د افغانستان او پاکستان عام بیچاره وګړي په دی خبرو ښه پوره پوهیدلی دی چی:
- ټروریستانواو په خاص ډول القاعده او طالبان څوک دی؟
- دوی د چا لخوا او څنګه جوړ شوی دی؟
- د هغوی ځالی او پټ ځایونه چیری دی ؟
- د چا لخوا او څنګه د هغوی سره مرسته کیږی؟
دا خبره لکه لمر روښانه شویده چه په دی کار کښی دعام ولسونولاسونونه نه بلکه د دولتونوپټ لاسونه شته، اودا هم هغه اصلی علت دی چی دهغوی پرضد جګړه تراوسه کومی روښانه نتیجی ته نه دی رسیدلی. پدی غملړلی جګړه کښی عام ولسونه ته ترټولوزیات تاوانونه رسیږی.
ترهغه ځای پوری چی د ټروریستانوپرضد د جګړی خبره ده کوم چی نړیوالو هیوادونه یی د سپټمبرد یوولسمی نیټی د پیښی څخه وروسته ګړندی کړیدی او په دی لاره کښی لسهاو زره عسکر اوډیر پرمخ تللی مځکنی او هوایی وسایل ګمارلی دی. د نړی په پرتله په یوه ډیره کوچنی جغرافیایی سیمه کښی لا هم تراوسه هم بخت دی. په دی لاره کښی یی تراوسه بیلیونو ډالره مصرفونه کړيدي، اوبریالی شوی ندی. د نه بریالتوب یوه ستره برخه یی د پاکستان د حکومت د دوه مخی سیاستونه ده کوم چی نه یواځی په سیمه کښی خپل ګاونډیانو ته بی ثباتی راوستلی، بلکه د نړی په ګوټ ګوټ کښی هم امنیت یی د ګواښ سره مخامخ کړی دی. د نړی و ټولو هیوادونوته دا په پوره توګه په ډاګه شویده چی د ټروریسان د کوم هیواد څخه خپلو فعالیتونوسرته رسوی او نوروهیوادونو ته ځی د هغوی د بیګناه وګړو پر ضد ورانکاری کوی.
افغان ولسمشرحامد کرزی په دی ورروستیوکلونوکښی په وار وارود خپلواندیښنو د ښودلو په ترځ په افغانستان کښی د بین المللی ځوکونو څخه دا ګیله په ډاګه کړیده چه ګواکی بین المللی ځواکونه د سرحد څخه په هغه غاړه په پاکستان کښی د القاعده اود طالب ټرورستانو ځالو په ورانولو کښی کم راغلی دی.
امریکایی مشهورنامتو لیکوال باب وډواړډ په خپل وروستی څیړنیزکتاب کی چی د « د اوباما جګړي» تر نامه لاندی د اسنادو په حواله لیکلی دی او دا موضوع یی په مستند ډول د خپل کتاب په لومړی برخی کی څیړلی دی او د کتاب د اول مخ څخه بیا دولسم مخ پوری په ښکاره ډول ویلی چی د امریکا دواړو ولسمشران جورج ډبلیو بوش او بارک اوباما دامریکا وخاصو ځواکونو ته دا امر ورکړی دی چه د ټروریستانو ځالی دی د پاکستان په خاوره کښی هم د هوایی او ځمکنی ګوزارونولاندی راولی. مګر کله چی خاصو قواوی خپل عملیاتونه په خاصه توګه د ځمکنی عملیاتونه د اراضی د شرایطوسره سم پیل کوی نو بیا د پاکستان حکومت په چیغو او نارو سره پیل کوی چی دا کارد پاکستان دعرضی تمامیت خلاف دی.
ټول نړی ته به د دوومیاشتومخکښی هغه پیښه ښه په یاد ولری کله چه د پاکستان د خاوری څخه راغلی ټروریستان د پاکستانی سرحدی ځواکونوپه مخ کی د افغانستان د خاوری په سهیلی برخو کښی ورننوتلی ۇ اود افغان پرامنیتو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پوستو باندی یی حملی کړیوی، ددوی حملی د سیمی د امریکایی خاصو قواو په مرسته وشاه ته ور وتمبول شول او د پاکستان د خاوری په د ننه کښی هغوی یی ښه وځپلی او ډیر یی ووژل.
د پاکستان حکومت نه یواځی دا چه د ټرورستانو په ځپلوخواښینی شول بلکه د نړیوالی په سطحه یی په احتجاجونو هم لاس پوری کړل. پاکستانی واکداران سره له دی چی د ټروریزم پر خلاف د جګړی په پلمه د نړی د ډیرو شتمنوهیوادوڅخه په خاصه توګه د امریکا د متحده ایالاتوڅخه په بیلیونو ډالرومرستي هرکال ترلاسه کوی، مګرکافی اسناد او شواهد وجود لری چه نه پخپله د پاکستان حکومت د ټروریزم پر خلاف په پاکستان کښی د ننه رښتنی ګامونه اخلی، بلکی برعکس د نورو د هیودونو دهلو ځلو څخه په ډول ډول پلمو د ځالو د ورانولو په کار کښی هم مخنیوی کوی.

## ۲- د پاکستان دوه چلند په سیمیز اړیکوکښی:

په سیمه کښی پاکستان نه یواځی د هندوستان سره بلکی د جنګ ځپلی افغانستان او د یوشمیرنورو سیمیزهیوادنو سره هم خپل دوه مخی سیاسی لوبی او جګړیزی اهداف پرمخ وړی چه دا سیاستونه د سیمی پر ثبات باندی پوره منفی اغیزي لري.
پاکستان د خپلو ناوړو سیاستونو د عملی کولو په لاره کښی ډول ډول وسایلو څخه کاراخلی د مثال په توګه یوهم د هغووسایلو څخه د پاکستانی او بهرنی مذهبی بنسټپالو ورانکارو ډلو پکار وړل دی. پاکستان د هندوستان سره په دی پټ جګړه کښی په ښکاره توګه څرګنډ کړیده چی نه یواځی د هند د کشمیر دسیمو په ورانکاریوکښی بس نه کوی بلکی د هندوستان په ننه کښی هم د هند د ستروا‌قتصادی ښارونولکه بمبی د حملو څخه صرفه نه کوی. پاکستان د خپل ورانکارو هدفونولپاره په افغانستان کښی د هندوستان د ګټو پرخلاف نه یواځی د هند دیپلوماتان او فنی کارکوونکی وژنی بلکی ورسره افغان بیګناه وګړي هم وژنی. ترڅو چی افغانان هم و دی ته مجبورکړی چی د پاکستان هغه شرطونه ومنی کوم چه افغانستان یواځی او یواځی د پاکستان د ګټو په انحصار کښی د تل لپاره پاته شی.
پاکستانی لوبی دا په ډاګه څرګندوی اوغواړی چه افغانستان د هغی دریش کلنی جګړی په بدل کښی د میراث توګه واخلی. تر څو چی افغانان و نه شی کولای د خپلو ملی ارادی پربنیاد خپلی ملی دندی سرته کړی اوخپل وړیاړلی د نیکونوښکلی ویجاړوطن بیا سمسورکړی. پاکستان د افغانستان د نورو سیمیزو هیوادنو سره په خاصه توګه د افغانستان د ګاونډیو هیوادونوسره لکه دایران، تاجکستان ، ازبکستان ، ترکمنستان، اوچین سره چه د افغانستان سره شریکی پولی لری، دا د اسلام جعلی ټیکدار دهریوی سره بیلی د سیالی پټی لوبی اوګټی لری چی په دی لوبو کښی یوهم د هغوهیوادنو د سیاسی مخالفومذهبی بنسټپالود روزنه ده په خپله خاوره کښی ( لکه چی د افغانستان سره یی د ۱۹۷۳ څخه را ورسته وکړ) کوی، چه بیا وکولای شی د مذهبی راز راز نورو تحریکاتو پشمول د وهابیت او القاعدی د تهدیدولود وسلی پواسطه سره خپلی ټولی سیاسی، اقتصادی او تجارتی ګټی سره ته رسوی. پاکستان په وروستیو کلونو کښی غواړی چی دا خپلی ټولی هلی ځلی د خپل د ګټود ساتلوله پاره په سیمه کښی دافغانستان د خاوری له لاری څخه سرته ورسوی.

## ۳- د پاکستان دوی مخی لوبی په نړیواله ډګر کښی:

پاکستان د غربی هیوادونوسره په خاصه توګه د امریکا د متحده ایالاتوسره د خپل د کیمیاوی اټومی وسلولرلو، د چین سره د اړیکی اود اسلامی مذهبی بنسټپالود پلمی څخه په پوره ډول کاراخلی او بیله دی څخه چه د غربی هیوادو سره د ټروریزم سره په جګړه کښی کوم رښتنی ګامونه پورته کړی ټولی هغی مرستی یی په وړیا توګه په دروغو او چل سره ترلاسه کوی. کله چه امریکا او نورو غربی هیوادونه لخوا فشارپرراشی نو بیا د چین و خوا ته منډی وهی. پاکستان د چین اوهند د سرحدی کشالی په اړوند خپلی ګټی شمیری او د چین د مرستی او چینایی فنی کارکوونکی څخه د هند سره په سرحدی پولو کښی نژدی د خپل پروژوکارونو ځای پر ځای کوی. همدا اوس یو شمرچینایی کمپني د پاکستان د قراقرم په غرونو کی د هند د پولی سره نژدی د څرکونو د جوړولو په کاربوخت دی.
پاکستان د خپل منترونوپه چلونو سره چین د غربیان د پیریانو څخه ویروی او د خپل د ضدینومنترونو د کمال پواسطه ببا غربیان د چینایی پیریانو څخه ویروی او په دی لوبو کښی د دواړو خوا څخه خپله شکرانه پوره څلور واره اخلی.
دپاکستان د آی اس آی د ماشین د فالتو زاړه متقاعد جنرالان هرکله چه ددوی څخه کومه پټه توطیه اویا د منترچال را بربنډ شی نو بیا د خپلو د بابولالود سندرو په ویلو پیل کوی، تر څوچه د نړی د خلکوغوږونه کاڼه نه کړی نه پریږدی. پدی درو وروستیو لسیزو کښی د هغوی نامتو سندرغاړوڅخه یوهم د کابل د لګولو نووښتګرد آی اس آی پخوانی رییس اود طالبانو برحاله ښوونکی متقاعد جنرال حمید ګل دی چه تاسودهغه د یوی خوږی سندری مصرع پلاندی ډول اوری چی وایی:

**د جنرال حمید بدله**

زمونږ لوی اټومی بم خوبیخی کمزوره نده زمونږ دوستی د چین سره پخوا زړه ده زمونږد القاعدی سره وروری
خورا پخه ده بن الادین جان او طالب جان هم راسره ده


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

خبردار اوسی ای هوشیارو وهابیانو
آی اس ای مو شپه او ورځ درسره ده.

د پاکستان د صدر اعظم یوسف رضا ګیلانی پدی سفر کښی تلاش کوی چه خپل د منترچلونه وخپل ګاونډی «دوست» هیواد افغانستان هم وروښی چی په سیمه کښی د دوی کنسرت ټیم پوره شی.

ډیرګران او د قدروړافغانانووړونو، د عزتمنو غیرتی پلارونو او نیکونو بچیانو!!!
په تاسو څه شویدی اودا خبره تاسوته چا وویلی دی چی تاسو « بیله د پاکستان د مرستی څخه پرته په هیڅ یو ډګر کښی هم بریالی کیدای نشی ».

د خپلو پلرونو او نیکونو په شملو ملنډی مه وهی هر څه بس دی تیره پسی هیر کړی. په یقین سره د پاک خدای ج په اراده د خپلو ننکیالیو پلرنواونیکونو په پاکو دوعاو تاسوبیخی کولای شی د خپلومټو په زوز د د دښمن کرغېړن طلسم اومنتر ورمات کړی. دا خبره په یاد ولری چه وارخطا مه شی او خپل همت اوپاکی هیلی د وطن د ملی ګټو د ساتلو په لاره د وطن د د دښمنانوپه مقابل له لاسه مه ورکوی. افغانستان یو جنګ ځپلی هیواد دی چی د خپلی بیا ودانولو لپاره د نړی د ټولو هیوادونو ومرستو او با وقاره دوستی ته په رښتنی توګه اړتیا لری. افغانان غلامی نشی منلی، مګر د دوستی د پاره هر وخت اوهر چاه ته یی د خپل صداقت پاکه غیږ یی پرانستی ده. مګردا هم نشی کولای چی د پاکستان د تش دوستی په هیله د نړی د نوروهیوادونو دښمنی په وړیا توګه رانیسی. او که چیری خدای نخواسته هم داسی وشی چی افغانستان ځان د پاکستان سره په یوه جوال کی ورواچوی دا به نوهغه نه بخښیدونکی ګناه وی کوم چی په حاضرت او اخرت به یی څوک جواب و نه لری.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ